مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر ۲۰۲۱/۱۲/۱۲

# د ګلونو دسته

تر پاریس او تر لندن ډیر ښایسته دئ
په سلام ورته بلګراډ , سویس دو دسته دئ

هندوکش یې د ګلکت سره سیالي کړي
لکه ناوې په طلا درست اراسته دئ

د یاقوت او زمرود یې په غاړ هاردی
د روم , فارس ښایست همه په یو پیسه دئ

شنه باغونه یې عدن پر مخ د مځکي
دښته ، غر یې د خاتولو ګلدسته دئ

واشینګتن , نیویارک یې نه رسي ښکلا ته
نورستان لره کشمیر هم خوار خسته دئ

درست یورپ یې خاورو ګتو نه قربان سه
تر ماسکو او تر ډهلي ډیر خجسته دئ

هم یې خلکو ته نړۍ ګوته په غاښ ده
ټول جهان یې وښایست ته آشفته دئ

زه یې نکړمه صفت نور یې صفت کړې
د نومیر دپلار نیکه کور برجسته دي

۱ - ډیسمبر -۲۰۲۱
متحده ایالات ، کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ